DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۱۰۹
شماره مسلسل ۹۷۶
یکشنبه ۲۰ حمل ۱۳۸۵ هـ.ش
۱۰ ربیع الاول ۱۴۲۷ هـ ق
9 April, ۲۰۰۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF AACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

در روز چهارم نشست

وزرای پیشنهادی مالیه ومعارف در ولسی جرگه حضور یافتند



در چهارمین روز نشست ولسی جرگه برای شنیدن برنامه های کاری وزیران پیشنهادی رئیس جمهور داکتر انورالحق احدی ومحمد حنیف اتمر وزیران نامزد در وزارت خانه های مالیه ومعارف به ولسی جرگه در صورت گرفتن رای اعتماد در مورد برنامه های کاری شان گزارش دادند.

داکتر انورالحق احدی گفت که وزارت مالیه پیشرو روند اصلاحات در کشور میباشد ومبارزه با فقر اقتصادی در اولویت کار وزارت قرار دارد ودر مورد این انطباق که گویا در سال ۱۳۸۴ بودجه هاي کمک کننده مسترد انکشافی به مصرف نرسیده ودوباره به کشور شده است ص۴

خلور مړه، اوه تپیان

دهرات ښار انصاري واټ کې پرون سهار د ۹ بجو په شاو خوا کې درنده چاودنه شوې . چې د مرګ او ژوبلې په اړوند يې لا تراوسه دقيق او پوره مالومات نه شته يوازې عيني شاهدان د ۴ تنو دوژل کيدو د ستر ګو ليدلی حال وايي د پښې په لومړيو شيبو کې يو شمير عيني شاهدانو بينوا ته وويل ، چې دا يو خانمرګی برید و چې په يو لنډ کروزرموټر کې د ايتاليا د پی ار تی مرکز ته نيږدې رامينځ ته شوه او د پی ار تی د يو موټر په ګډون ۲ موټر په کې له مينځه تللی دی شاهدانو يو شمير تپيان ليدلی چې روغتون ته ليږدول شوی دهرات د روغتون يو ډاکتر وويل د ۲ ميرمنو يو دولتی عسکر په ګډون ۹ تنه تپيان روغتون ته رسيدلی چې يو تن په کې مړ شوی او د ۲ نورو تپونه هم ژور او د اندېښنې وړ بلل شوي دي دطالب اورپکو يو وياند قاری يوسف ويلی چې دغه برید د دوی د يو تن پلوی طالب له لوري چې عبدالرحيم نومېده ترسره شوی دی دولتي عسکر او ملکي وګړي هدف ګڼلی دی.

چارواکی تر دم ګړی په دې اړوند چوپه خوله دي خو د پوليسو مشر ووېل چې له پلټنو وروسته به په دې هکله خبری ناستې ته وينا وکړي هرات والی سيد حسين انوري وروسته بينوا ته ووېل چې د خانمرګی په ګډون ۴تنه مړه او ۷ تنه تپيان شوي دي

دو صد کیلو گرام تریاک بدست آمد

پولیس حوزه نهم امنیتی شهرکابل پیش از ظهر دیروز بیشتر از صد کیلو گرام تریاک را که در یک موتر باربری جاسازی شده بود کشف وضبط نمود. آمر حوزه نهم امنیتی شهرکابل گفت که به اتهام این رویداد یک تن باز داشت شده است.



سرمقاله

له دولت سره دخلکو په ليرې والی کې دښونځيو دسوځولو او بې امنيتی ننښې زياتې شوي دي

له اوږدو جګړو څخه وروسته افغانانو ته ثابته شوه چې معلوم الحاله کړيو او هيوادونو دخپلو ګټو په خاطر افغانان په خپل مينځ کی وينو ته ټوپې کړي وو.

خو اوس افغانانو نړيوالوته ثابته کړه که پرون يې په يوبل ډزې کولې خو نن په پوهيدوسره ټول دهيواد د وډانولو په لاره کې يو موثی شوي دي او استازي يې د خلکو په کورکې راټول شوي دي.

خو تخريبي عناصر دخپلو بهرنيو هڅوونکو په هر اړخيزه مرسته نه غواړي چې افغان هيواد د ژوندانه په ټولو خواوو او په تيره بيا دتعليم په برخه کې وړاندې لاړ شي.

تخريبي عناصرو تر اوسه پورې دهيواد په سرحدي ولايتو کې د ښوونځيو او په تيره بيا دانجونو دښونځيو دسوځولو په برخه کې خپل شوم اهداف تيز کړي دي تر اوسه پورې دهيواد په همدغو سيمو کی په لسونو ښوونځيو ته اور اچولی چې پدی ورځو کې هم دښوونځيو دسوځولو شاهديو دهيواد په داسې شرايطو کې چې له يوې خوا زمور خپل پوليس او ملی اردو دجوړيدو په حال کې ده له بلې خوا دکم شمير دښمن تخريبي عملياتو زياتوالې موندلی دی د دولت لپاره هم له ستونزو ډکه ده چې دهيواد په هر پل، مکتب او روغتون او داسی نورو عام المنفعه تاسيساتو خپلې پهرې ودروي دا کار هلته کولای شي چې دخلکو پراخه پرګنې له دولت سره دخپلې ريښتنې همکاری څرګندونه وکړی دکليو اوبانډو خلکوته لازمه او ضروری ده چې دخپلو تاسيساتو دساتنې په برخه کې له قومی اربکيو څخه کارواخلی او په دې ډول دخپل دولت ملاتړ وکړی او که داسې نه وی دښمن به دخلکو له بې پروايی څخه لازياته ګټه د خپلو شومو اهدافو دسرته رسولو په برخه کې پورته کړی.

په پکتيکا کې يو قومی مشر ووژل شو

دپکتيکا ولايت دبرملو په ولسوالی کې دجمعې په مازديګر د وسله والو لخوا يوقومی مشر ووژل شو. په همدې وخت کې ددغه ولايت دمانو کنډو په سيمه کې ديوې ماين دچاودينې له کبله دري ولسې وګړی تپيان شوی دی.

دپکتيکا والی داکتر اکرام خپلواک وويل چې دګاونډی هيواد پاکستانی سره په پوله د برمل په ولسوالی کې يو تن قومی مشر جهانګيرخان د ناڅرګندو کسانو لخوا ويشتل شوی دی او وژل شوی دی. همدارنګه د مانو کنډو په سيمه کې په يو شخصی موټر پسې دبمی چاودنې پر مهال دري تنه خای اوسيدونکی تپيان شوی دی. نومورې زياته کړه چې د دواړو پيښې په تور څوک نه دی نيول شوی خو امنيتی خواکونو دپيښې داصلی عاملينو په لټه کې دی او په دې اړه ګڼدی هلې ځلې پيل کړی دی. ټباغلی خپلواک دا هم وويل چې ددغو پيښو قربانيان ملکی وګړی دی اوپه دولت کې رسمی دنده نه لري. پکتيکا او په ځانګړې توګه دبرمل سرحدی ولسوالی هغه سيمه ده چې زيات وخت پکې بمی چاودنې وسله والې او راکټی بريدونه ترسره کيږی او عاملين يې له سيمې څخه په تيښته بريالی کيږي.

په ننګرهار کې قومي غونډه وشوه

دننګرهار ولايت دسپين غره سرحدی ولسوالی قومی مشرانو پريکړه کړې چې تر دې وروسته به په دغه ولسوالی کې دنشه يې توکو په وړاندې کلکه مبارزه وکړی دغه پريکړه په داسې وخت کې رامنځته کيږي چې څه موده وړاندې په دغه ولسوالی کې برتانوی ځواکونو يوه چورلکه له نشه يې توکو سره دمبارزې په لړ کې رالويدلې وه.

دغه راز دننګرهار ولايت دمطبوعاتو آمر سمنوال عبدالغفور وايی ديادې شوې ولسوالی مشرانو په پريکړه کې راغلی که هر څوک دهيروئينو «لابراتوارونوپه جوړولو او قاچاق کرم وبلل شول ۴مخ

دو موتر لاری به آتش کشیده شد

دو موتر بار بری لاری در مسير شاهراه کابل - قندهار در منطقه شاه چوی از سوی افراد طالبان به آتش کشيده شد.

محمد رسول سرپرست قوماندانی امنيه ولايت زابل گفت اين دو موتر لاری شب گذشته مورد حمله افراد ناشناس قرار گرفت ولی به راننده های موتر آسيب نرسيده است.

وی گفت موتر های مذکور اموال تاجران افغان را انتقال ميدانند اما ادعا دارند که اين موتر ها مربوط نيروهای ائتلاف بين المللی بوده است.

په ښوونځي دراکټونو ويشتل

تيره شپه ديوې بجې په شاو خوا کې دنامعلومو وسله والو کسانو لخوا د خوست ښار لويديز لور ته د اسماعيل خيلو دولسوالی اړوند محمد صديق روهی ليسې په وداني باندې توغنديو برید وشو چې له املې يې د سيمې دځايی اوسيدونکو او قومی وسله والو اورپکو په متقابل ډزو کې برید کوونکي وتښتيدل، دنومورې ليسې مدير محمد غنی وويل چې په تومورې ليسه باندې ۶ توغندی لګيدلی دی چې له املې يې چاته مرګ ژوبله نه ده اوښتی ۴مخ

د نوی کابینې په اړوند دهیوادوالو نظریې

در رابطه به لست پیشنهادي کابینه جدید که از سوي رئیس جمهوربه پارلمان ارایه گردیده است درین شماره نظریات هلینه ملکیار بدست نشر سپرده میشود

محترمه هلینه ملکیار!

در این روز ها که جلسات شورای ملی در باره کابینه پیشنهادی رئیس جمهور حامد کرزی جریان دارد نظر شما در باره کابینه پیشنهادی چه میباشد؟

جواب : در مجموع نباید تمام وزرا را رد کرد بعضی از وزرا هستند که مناسب برای کار میباشد. در مقابل ان وزیران که ثابت ساخته مناسب به کار نیستند یا چهره های نو هستند نمی فهمم که چقدر موثریت در کار دارند. از این خاطربهتر خواهد بود که بالای لست یا فهرست به شکل فردی قضاوت کنند.

سوال : در باره سهم زنان در کابینه آینده میخواهم نظر شمارا بدانم؟

جواب : سهم زنان در کابینه پیشنهادی واضع است که کم رنگ است صرف یک وزارت آن هم وزارت امور زنان به یک زن داده شد که این تصمیم پاسخگوی حقوق زنان نمی باشد، اما از طرف دیگر به عنوان یک زن میخواهم بگویم در حالی که دم از اعاده حقوق زن زده میشود چگونه میتوان با نصب یک زن در کابینه این آرزو را بر آورده کرد.

سوال : گفته میشود که در پارلمان فضا دموکراسی حاکمیت ندارد، شما آن را چطور ارزیابی میکنید؟

جواب : دموکراسی در افغانستان یک تجربه نو است در سیستم کار حکومت از وقتی که حکومت منتخب رویکار آمده دموکراسی درکار شان تا حد بیشتر نمایشی بوده است.

و شکل شعاری دارد شورای ملی ما هم که بار اول بعد از سی سال به وجود آمد البته بعد از یک دوران بحران بسیار طولانی ما شخصاً انتظار آید ومسئله معامله وملامله گری از چهار سال پیش از کنفرانس بن شروع شد وحکومت کردن ذریعه ایتلاف های سیاسی بوده، از همان وقت شروع شده بود متاسفانه در شورای ملی هم این چیز های به چشم میخورند.

سوال : اگر کابینه موجوده رای تائید را آورند تا چه اندازه کابینه را مسلکی وبا مدیریت ارزیابی بسیار مشکل است که ترکیب هر سه صفت را در یک شخص پیدا کنیم.

سوال : اکنون بالای کابینه پیشنهادی از طرف مردم بسیار انتقاد است و اظهار میدارند اکثر چهره های کابینه قبلی است اگر را ی بدست آورند باز هم اینها کار نکنند مسوول کی خواهد بود.

دموکراسی در افغانستان یک تجربه نو است در سیستم کار حکومت از وقتی که حکومت منتخب رویکار آمده دموکراسی در کار شان تا حد بیشتر نمایشی بوده است.

این را نداریم که از شروع کار فضای دموکراتیک وبسیار مسلکی وغیره را در شورا ببینیم، از این خاطر فکر میکنم که یک اندازه وقت میگیرد تا که تجربه دموکراسی ما به یک جای برسد که شورای ملی از یک طرف حکومت از طرف دیگر به صورت عموم یک جامعه دموکراتیک اعمار شود.

سوال : یکی از وکلا ایراد داشتند که در شورای ملی فضای جانبداری ومعامله گری حکمفرما میباشد شما چه فکر می کنید.

جواب : از معلومات وتبصره های اعضای شورای ملی وهمچنان مبصرین سیاسی همینطور یک چیز برمی میکنید؟

جواب : قسمیکه پیشتر گفتم باز هم این فهرست به صورت انفرادی باید مورد قضاوت قرار گیرد زیرا بعضی اشخاص کاردان ومناسب به کار هستند وبعضی شان نیستند.اما این را هم باید دز نظر بگیریم که شرایط و اوصافی که برای وزیر شدن در قانون اساسی ماذکر شده تحصیلات عالی،شایستگی در کار ومسلکی بودن است در ضمن چیزی که در قانون اساسی ذکر شده این است که وزیر کاندید دارای شهرت نیک باشد بعضی اوصاف دیگر هم است اگر ما مدنظر بگیریم در افغانستان بعد از سی سال بحران متاسفانه

جواب : این دیگر یک چیزی واضح خواهد بود همان گونه که پارلمان کشور نقش تعیین کننده را دارند جوابده خواهند بود.

سوال : فرضاً اگر این کابینه رای تائید بگیرد و کار ایشان باز هم مثل سابق قابل تائید مردم نباشد وفاصله ایجاد شده مردم ودولت را از بین نبرند چه فکر میکنید که امنیت خوبتر خواهد شد؟

جواب : وضع امنیت در کشور ما در چند هفته اخیر بسیار خرابتر شده ودلایل آن هم همین است که حکومت در این چهار سال نتوانسته جواب گوی تقاضای ملت باشد.

و امنیت به نظر من فقط موضوع حمله انتحاری یک تروریست بالای یک موتر دولتی نیست امنیت باید یک مفهوم بزرگترین افاده کند وبتواند تمام عرصه ها را زیر پوشش آورد

میخواهم بگویم در حالی که دم از اعاده حقوق زن زده میشود چگونه میتوان با نصب یک زن در کابینه این آرزو را بر آورده کرد.

د نوې کابینې په اړه داستازو مسؤولیتونه

محمد حسن حقیار

په امریکا کې د سپتمبر د یوولسمې له پېښو او په افغانستان کې له سیاسي ډګر څخه د طالبانو تر وتلو وروسته چې کله یو ځل بیا د نړیوالو پام افغانستان ته را واوښت او وطن مود زرګونو بهرنیو پوځونو مېلمستون شو، نو ورسره جوخت له هر افغان سره داهیله پیداشوه چې نور به مونږ وران او کنډر کنډر هېواد بېرته ورغول شي، هر اړخیز سمون او اصلاحات به راشي، امنیت به ټینګ شي ، ډاډمنه او مطمئنه فضا به حاکمه شي ، دولتي منصبونه او پوستونه به د ولس امانت وګڼل شي او کار اهل خلکو ته به وسپارل شي. نور به افغانان په پردیو هېوادونو کې در په دره او د غربت شپې او ورځې نه تېروي. که څه هم تر یوه حده د بیارغونې چارې تر سره شوې، ډېر کډوال بېرته راستانه شول په ځینو سیمو کې نسبتاً ارامي ده ، خو بیا هم ډېر څه پاتې دي

د افغانانو هېلې او غوښتنې په سلو کې لس هم پوره شوې ندي ، په اداره کې اوس هم ټاکنې د ضوابطو پر ځای پر روابطو او د تخصص، لیاقت او مدیریت پر ځای د مصلحتونو او سهمونو له مخې کېږي.

وزارتونه او لوی ریاستونه د همدې معیار له مخې وېشل شوي دي. اوس چې افغانستان نسبتاً د یوټاکلي پارلمان درلودونکی دی نو افغانانو هم خپلې ټولې هیلې په دوی پورې تړلې دي، دوی له پارلمان څخه هیله لري چې حکومت ته ښې او ګټورې مشورې ورکړي، د دردېدلیو ، کړېدلیو او ځورېدلیو هېوادوالو په ټپونو دې ملهم او پتمې کېږدي.

پارلمان باید لکه څنګه یې چې دنده ده ، وزیران راوبولي، د هغوی د کړنو او اجراتو په اړه تري پوښتنې وکړي، هغوی باید وپوښتل شي چې د وزارتونو عادي او پراختیایي (انکشافي) بودیجې څه ډول لګوي او یا یې څه ډول لګولې دي ، خپل پراختیایي پلانونه یې څومره تطبیق کړیدي. په خپلو ادارو کې یې لوړ پوستونه چاته ورکړي دي ؟.

دا اوس چې ولسمشر د راتلونکې کابینې لست پارلمان ته سپارلی دی ، نو پارلمان باید په پټو سترګو ، له پلټنې او څېړنې پرته د لست په اړه تصمیم ونه نیسي، په دې لست کې هم ځینې داسې خلک شته چې افغانان تري ډېرې بدې خاطرې لري، د بې ګناه هېوادوالوپه وژلو کې یې ونډه لرلې ده ، نه یواځې ونډه بلکې په یو امر یې لسګونه افغانان وژل شوي دي. ملي شتمنۍ یې چور او چپاول کړیدي، د افغانانو وینې یې زېښلي، ددوی هډوکي یې پلورلي او سلګونه میلیونه ډالر یې په بهرنیو بانکونو کې ځانته ذخیره کړي دي.

نو دا د پارلمان دنده ده چې په دا ډول خلکو باور ونه کړي، د وزارت په څېر مهم او کاري منصب دا ډول خلکو ته ونه سپاري، همداراز په دې لست کې دا ډول خلک هم شته چې ژبني، سیمه ییز او مذهبي تعصب ته یې لمن وهلې ده، داسې خلک هم شته چې څو بهرنۍ ژبې یې زده دي خو د خپل هېواد او خلکو په رسمي ژبو نه پوهېږي، څوک چې دخپل هېواد او خلکو په رسمي ژبه پوه نه شي نو هغه به بهرنیو ډالرو ولیدلې چې بې اداري او بې تجربې سکالران ، ډاکټران او ماسټران بریالي ونه ختل، نو پارلمان باید په دې اړه ډېر محتاط واوسي، هر اړخیز فکر وکړي، د موضوع هره خوا وسنجوي او له هغه باور څخه کار واخلي چې ملت پر دوی کړیدی.

د دا ډول کابینو خدمتونه او کاري پایلې!! مور ولیدلې چې بهلګه یې د سلګونو میلیونونو ډالرو بېرته مسترد بدل او نه مصرفېدل دي

دا څومره د افسوس او خفګان خبره ده چې په یو هېواد کې چې ټول کنډو کپر وي، ټول بنسټونه یې نړېدلي وي او لوبشت لوبشت یې بیارغونې او ودانۍ ته اړتیا ولري، بیا هم د همدې هېواد د بیارغونې او دوانۍ لپاره مرسته شوي سلګونه میلیونه ډالر په دې دلیل بېرته مسترد کېږي چې چا ونه لګول او چا یې د لګولو ظرفیت او کفایت نه درلود

نو پارلمان باید دا ډول خوبولو وزیرانو ته د اعتماد او باور رایه ورنکړي او د ملت پر وړاندې خپل ملي او دیني رسالت تر سره کړي

متصدی: ناصر بشر

رانګونکی د ځوانانو ده

مورږ باید له مطبوعاتو نه خبرې پټې نه کړو

په ښوونځیو کې د اوسنیو ستونزو په هکله مو دښوونې او روزنې وزارت له معین ښاغلی محمد صدیق پتمن سره مرکه کړې چې په لاندې ډول خپریږي.



محترم پتمن صاحب! نوی تعلیمی کال شروع کیږي دمسلکی استاذانو ستونزه موجوده ده دکتابونو سونزې دی او په صنفونو کې تعداد زیات دی بی نظمی زیاته ده دغو ټولو په کیفی سطحه باندې اغیزه کړې ده تاسو په نوی کال کې څه پروګرام ترلاس لاندې نیولی دی؟

ځواب: خبر داده چې هر تعلیمی کال یو سلسله تجارب بل کال ته انتقالوی هغه دا چې تیر کال مو څه مشکلات لرل په نوی کال کې به یې کم کړو تر کومه ځایه چې امکانات ولري تر کومه ځایه چې مسلکی توب خبره ده تاسو پوهیږی چې دهر کور تربیه کول زمان ته ضرورت لري مورږ په زمانی لحاظ اړ یو چې کار وکړو او کادر تربیه کړو برسیره پر دې چې ښوونکی تربیه شوی نه دی، ښوونکی وژل شوی ښوونکی ترک مسلك شوی دی دیرش کاله تیر شول ښوونکی سپین ږیري شوی دښوونې او روزنې وزارت ورته متوجې دی مورږ دکب په ماشت کې سیمینار درلود او په ۲۴ ، ۲۵ ، ۲۶ نیټو دې سیمینار مشخصې لارښوونې کړی دی.

له نوی کال څخه به دښوونکو دروزنې مراکز په ټولو ولایاتو کې ایجاد کړو دمسلکی ښوونکو ستونزه به حل کړو.

پوښتنه: پخوا به له ادبیاتو تعلیم تربیې او ساینس څخه مسلکی ښوونکی فارغیدل او وزارت کې به دنده ورکول کیده مګر اوس نورو ځایونو ته ځی پخوا د مسلك په لحاظ مجبور وو چې معلمی وکړی مګر اوس معلمی ته زړه نه ښه کوی د دښوونې او روزنې وزارت به دغه مشکل حل نه کړای شي چې داسې مسلکی فارغان د ښوونې او روزنې په وزارت کې دنده ترلاسه کړی.

ځواب: دا په دې پورې اړه لري چې مورږه څومره سهولت مهیا کولای شو ازاد بازار او دمارکیټ سیستم دی هرڅوك غواړی چې ښه معاش ولري مورږ کوشش کوو چې معلمینو ته په مادی او معنوی لحاظ ښه امتیازات برابر کړو چې خلك خپله راشي اودمعلمی دنده واخلی.

سوال: اوس په مکتبونو کې دکتابونو ستونزه ده چې دیوه فکتور په توګه په زده کړه کې رول لري کتابونه په بازار کې شته خو په مکتبونو کې نه ورکول کیږي که ورکړل هم شي دځو کالو تالیف وی ښوونکی حیران پاتې شي چې کوم یو تدریس شي دا مشکلات به څنګه حل شي؟

ځواب: په یقین سره چې دا مشکل وجود لري دا په وزارت کې دمختلفو رهبریو راتګ دغه مشکل منخته ته راوړی په دې مانا هر چا چې کتاب چاپ کړی تیراژ یې پوره نه دی او شخصی تجاراتو اخیستی له سره یې دوباره چاپ کړی دی ځینې کتابونه پخپله موسساتو چاپ کړی دی تاسو ته معلومه ده چې دموسساتو احصائیه دومره دقیقه نه وی یو دلیل یې کیدای شي دا وی چې مکاتبو څنې راوتلی وی خو اساسی دلیل یې دا دی چې کتابونه دوباره چاپ شوی دی او بازار ته یې عرضه کړی دی.

پوښتنه: پخوا خو د دښوونې او روزنې وزارت خپله مطبعه درلوده دښوونې او روزنې په مطبعه کې به کتابونه چاپیدل وزارت په خپلو پښو نه دی ودریدلی چې مطبعه په خپلو پښو ودروی یو مثال به ووایم دځینو کتابونو په اخر کې دوه سپینې پانې موجود دی که دیوې پانې بیه یو روپی ونیسو نوپه لس لکه کې ۲۰ لکه روپی زیاتې بې ځایه لګښت شوی دی.

که دا کار وزارت وکړی له زیاتو پیسو به خلاص شي په خپل کنترول کې به یې وساتی.

مورږ اوس کتابونه دانکشافی بودجې نه چاپوو شرط دادی چې مورږ به یې دازاد بازار له لارې چاپوو چا چې وګاټه هغو به یې چاپوی سږ کال چې مورږ کتابونه چاپ کړی بیډینګ به کیږي هر چا چې وګاټه هغه به کتابونه چاپوی. سږ کال چې مورږ څومره کتابونه چاپ کړی مورږ دوه خلې بیډینګ کړی چې یو خل مو ۳.۶ میلیونه او بل خل ۱۷.۳ میلیونه کتابونه چاپ کړی دی.

دوزارت اقتصاد له لارې بیډینګ شوی دی. څو مطبعو په کې اشتراك کړی دی او دبهیر مطبعې ګټلی دی همدا اوس تر اتم صنف پورې دکتابونو مشکل رفع کیږي.

د ۲۰ میلیونو په شاوخوا کې کتابونه چاپ شوی څه توزیع شوی او نور به هم توضیح شي.

ځکه اکثره ډونران چې راځی هغوی تعلیمات اساسی سپوټ کوی یوازې موسسه چې ما ورسره کتلی هغه دریټ موسسه ده هغوی حاضر دی چې ثانوی زده کړو کې مرسته وکړی دنصاب تعلیمی پروسه دوامداره پروسه ده هره ورځ باید نوی مسایل په کې شامل کړو.

دمعلم روزنه او تعلیمی نصاب همغه دوامداره پروسه چې پرله پسې دوام ومومی باید همیشه یې سپوټ کړو او همیشه یې نوی کړو.

پوښتنه: پتمن صاحب تاسو سږ کال د TEP سیمیناروونه جوړ کړل او دوام لري چې دفعال تدریس زمینه برابره شي ایا دټولګیو په دې زیات تعداد کې داتدریس عملی کیدای شي؟

ځواب: دا یوه موثره پروژه ده که شمیره د شاګردانو کمه وی که زیاته وی که څوك پوه شي دشاګردانو شمیره په داسې پروسه باندې منفی او مثبت اثر لري که معلم په میتود پوه شي دکمو او زیاتو شاګردانو مسئله خو بیا مطرح نه ده.

اصلاً اخلال په دې کې دی چې له نورم زیات شاګردان په صنف کې کیناستل دتدریس میتود مختل کوی مشکل همدلته دی.

دا بیلابیلې ستونزې دی او دا ټولې مرحلې دنړی ټولو هیوادونو تیرې کړی دی.

هغه وخت چې جاپان خپل دښوونې او روزنې جوړ وو هغه وخت دصنف شمیره تر ۱۵۰ کسانو پورې و.

مګر نن سبا په جاپان کې دشاګردانو شمیره له ۱۵ څخه نه زیاتیږي مورږ دبحران نه ډیریدو په حالت کې یو راتلونکی ۶ کاله هم بحران نیسي دښوونې او روزنې به هغه وخت ثابت حالت ته داخل شي چې زمورږ اوسنی د څلورم ټولګی شاګردان دولسم ته ورسیږي.

مورږ نوی دښوونې او روزنې په ۸۱ کال کې شروع کړی زمورږ زده کړې چې په اول ټولګي کې شامل دی تر څو چې له ۱۲ ټولګي څخه فارغ نشي نو مورږ دښوونې او روزنې ته په ثابت نظر نشو کتلای.

هر کال زمورږ شاګردان په لکونو راځی او په زرونو فارغیږي زما له نظره دا د بحران کریټي دی دا بحران به تیریږي او بالاخره به صفر شي ۱۲ کاله به جریان لري او داسې وخت به راشي چې یو میلیون شاګردان به جذبوو له هغې نه به اوه سوه یا اته سوه زره فارغوو داسې یوه مرحله به راشي چې کم به جذبوو او زیات به فارغوو دا به هغه حالت وی چې مورږ به دا بحران حل کړی اوسی نو دغه حالت به تاسو له مورږ سره وګالی زما تقاضا له مطبوعاتو نه داده چې ستونزې را برسیره کړی څو چې دحل لارې ورته ولټول شي.

زه په دې نظر یم چې مورږ باید له مطبوعاتو نه خبرې پټې نه کړو بلکې هغوی ته یې ورکړو او دښوونې او روزنې هغه وزارت دی چې باید خپلې ستونزې یې خلکو ته ووایی چې خلك دخپلو بچو په سرنوشت پوه شي چې مکتب ته ځی هلته په څه حالت کې دی سهار له کوره وتلی دی لوڅې پښې یو جوړه کالی په غاړه دی دی ځی هلته څه کوی معلم شته که نه کورنۍ باید خبره شي چې زوی یې مکتب ته ځی هلته سبق وایی که نه که مورږ سترګې پټې کړو دا زمورږ مشکل نه حلوی.

مرکز آموزش افغان - کوریا تعلیمات حرفوی میدهد

شرایط امروزی کشور که بسیاری از جوانان را مجبور ساخته که به طور مسلسل تحصیل خویش ادامه داده نتواند زیاد شاگردان مشکلات اقتصادی دارند وبرای فامیل خویش مجبور میشوند که یک لقمه نان را آن هم به هزار مشکلات بدست بیاورند خوشبختانه که مرکز تعلیمی افغان - کوریا توانستند در رشته های کمپیوتر، برق، انجن موتر، خیاطی، ولدنگ وساختمان شاگردان را تربیه نمایند که بنا بر عوامل مختلف از مکتب مانده باشند.

محترم انجنیر شیوا امردپیارتمنت موتر در جواب سوال خبرنگار روزنامه چنین گفت: مفهوم ایجاد مرکز اشتغال ان افراد است که از تحصیل نظر به علت های مختلف مانده باشند درین مرکز انها تربیه میشوند سال گذشته در هر حرفه ۳۰ نفر شاگرد در طول یکسال تربیه نمودیم امسال در هر حرفه ۶۰ نفر شاگرد تربیه خواهد شد.

ما امیدواریم که در آینده این تعداد زیاد شوند و بیشتر جوانان را جذب نمائیم.

سوال: چند رشته دارید؟

جواب: شش رشته داریم برق، موتر، خیاطی، کمپیوتر، ساختمانی، نلدوانی در رشته خیاطی ۳۰ نفر است و در ساختمان هم ۳۰ نفر میباشد یعنی رشته ساختمان و خیاطی در طول یک سال دو دفعه شاگرد ترین میکند.

انجنیر شیوا در باره شاگردانیکه ازولایت آمده گفتند: برای آنهاییکه زمینه بودوباش در کابل مهیا نیست در لیلیه گرفته میشود امکانات لیلیه در سطح عالی بوده وشاگردان از لحاظ رهایشی هیچ مشکلات ندارد.

برای شاگردان لیلیه ۳ وقت نان داده میشود و برای ترانسپورت هر نفر روزانه پول داده میشود درین ترانسپورتیشن هر شاگرد لیلیه ونهاری شامل میباشد.

فعلاً دروس شروع گردیده و دروس به شکل تیوری وعملی میباشد که ۳۰ فیصد آن تیوری و ۷۰ فیصد آن عملی میباشد.

موضوع این است که قبل از فراغت شاگردان این مرکز با کمپنی ها، موسسات و ورکشاپ ها ارتباط برقرار می گردد و زمینه اشتغال بعد از فراغت برایشان برابر میگردد.

زنگ سال تعلیمی ۱۳۸۵ به صدا در آمد اما؟

لیسه حاجی عبدالقدیر یکی از پنج، شش مکتبی است که در مکروریان های،اول،دوم،سوم وچهارم قرار دارد این لیسه با داشتن ۷۸۰۰ شاگرد در یکی از تعمیرات ریاست کودکستان های امور تعلیمی را در این سال سپری میکنند تعمیر مکتب که تقریباً به ویرانه در دوران جنگ تبدیل شده بود در سال ۲۰۰۲ به کمک کشور دوست دولت ترکیه اعمار مجدد شد.

زمستانیکه سپری شد مدیر لیسه همراه با معاونین ومامورین با دلسوزی عام وتام از صبح تا به شام در مکتب مصروف کار بودند، فکر میکردم که شاید با این زحمت کشی که دارند چه تغیرات بزرگ در مکتب رونما شده است. وبار ها به این فکر میشدم که وزیر معارف هم شاید در زمستان کار کرده اند غم کتاب،چوکی، خیمه وسقف برای شاگردان را خورده اند ما با کمال تاسف زمانیکه در ابتدا سال تعلیمی در لیسه داخل شدیم صرف یک مقدار نهال سرسبز وسبزه ها در صحن مکتب به چشم میخورد وبس نه از چوکی خبری است نه از کتاب ونه از قرطاسیه در روز های بارانی همه اطفال و نوجونان از خیمه ها که مدت چهار سال را در گرما وسرما سپری کرده همه سوراخ سوراخ اند فرار میکردند خیمه ها همه روی یک قد گل ولای افراشته شده است هفته اول شاگردان خوشبخت صنوف دوازدهم که هم صنف وهم یکمقدار چوکی دارند در مکتب حاضر بودند تعدادی کثیری از شاگردان زیر خیمه دوباره از راه دیوار های مکتب فرار میکردند.

دختران وپسران تازه به مکتب آمده گریه کنان با نبودن صنف در دهلیز ها انتظار پدر ومادران را میکشیدند دلم برای هریک میسوخت من هم چون کودکان گریه میکردم چندین بار خواستم با آقای قرقین صحبت کنم اما متاسفانه که جواب رد شنیدم شاید هم در مهمانداری وکلای پارلمان بخاطر کرسی جدید شان در کابینه جدید مصروف بودند.

شاید هم میدانست که یک معلم با ایشان بخاطر خیمه، کتاب، چوکی حرف میزد. که جواب رد میدادند دلم آرام نگرفت به عجله خودم را به وزارت رساندم با ایشان اجازه ملاقات نیافتم برایم گفتند که این مشکل سراسر افغانستان است من این مشکلات تعلیم وتربیه را در ولایات لغمان وجلال آباد هم دیدم از چند لیسه انجا هم قبل از ماه حمل دیدن کردم. فلم گرفتم وعکس اخذ نمودم تا با وزیر صاحب در میان گذارم اما با کمال تاسف که وزیر در وزارت خانه نبود اولین سوال ام از جناب وزیر معارف این بود که وزیر صاحب شما چطور نتوانستید از ۸۲۰ ملیون دالر بودیجه انکشافی سال ۱۳۸٤ استفاده کنید در حالیکه نه شما نه وزیر معادن صنایع نه وزیر مخابرات نه وزیر آب وبرق توانستید از آن استفاده کنید وان دوباره در بودجه انکشافی سال ۲۰۰٦ انتقال یافت انتقال دوباره آن فقط وفقط چکشی بود بر فرق این ملت بیچاره حال تقریباً ۲۰ روز سپری شده تا هنوز در نزدیکترین لیسه ها به وزارت معارف میز، چوکی وکتاب وجود ندارد. کتاب های چاپ جدید با یک عالم اغلاطه آن کاملاً در مدت ٤ سال فرسوده شده است شاگردان همه شاکی اند معلمین هم از کمبود معاش، بلند رفتن نرخ ها، نبودن سرپناه وبرق در عدم موجودیت بس های دولتی با پای پیاده مسافه های طولانی را طی کرده به مکتب حاضر میشوند. وزندگی اکثر معلمین از لحاظ اقتصادی در حال بدی قرار دارد، امید است که کار کرده ها وخدمات وزیر جدید قابل دید ولمس باشد

په بنوونځي د ...

خو دليسې ودانۍ پکې زيانمنه شوې ده. بايد وويل شي چې دمحمد صديق روهی ليسه تير کال دپی آر تی يا ولايتی بيا رغاونې ډلې لخوا د ۱۶۰ زرو امريکايی ډالرو په لګښت سره جوړه شوه او دا مهال په زرګونو زده کوونکی پکې زده کړې کوی.

په يو بل خبر کې راغلی دی چې تيره ورځ د لسو بجو په شاوخوا کې د پکتيکا مرکز دشرنی بنار ته نږدې دنامعلومو کسانو لخوا د انجونو يوه لومړنی بنوونځی ته اور واچول شو. دپکتيکا والی محمد اکرام خپلواک وويل چې په دغه لومړنی بنوونځی کې چې دمدرسې ترڅنګ موقعيت لري دسلو په شا وخوا کې انجونو زده کړې کولې نوموړی ددې پيښې پره دهيواد دسولې امن او پوهنې پر دشمنانو واچړله. ده زياته کړه چې ددې پيښې په تړاو څوک نه دی نيول شوی خو په هکله يې جدی پلتنه روانې دی.

دولت تحت رهبری حماس قطع کمک غرب را 'عجولانه' خواند



اسماعیل هنیه، صدراعظم جدید فلسطینی ها، تصمیم آمریکا و اتحادیه اروپا برای قطع کمک ها به دولتش را به باد حمله گرفته است.

آقای هنیه، از گروه حماس، که در نوار غزه سخن می گفت اظهار داشت که این تصمیم ها عجولانه و غیرمنصفانه است.

محمود عباس، رئیس تشکیلات خودگردان فلسطینی نیز آن را غیرقابل قبول خواند و گفت که باعث رنج و عذاب مردم عادی خواهد شد دولت فلسطینی به رهبری حماس می گوید ورشکسته و بدهکار است و درحال حاضر هیچ پولی برای پرداخت حقوق کارمندان دولت ندارد

به گفته کارولین هالی، خبرنگار بی بی سی در غزه، مقام ها می گویند که خواستار دریافت کمک های فوری از کشورهای عرب و اسلامی خواهند شد.

با این حال آقای هنیه اصرار ورزید که دولتش موفق خواهد شد و گفت که کلمه شکست در لغتنامه او وجود ندارد.

اما خبرنگار ما می گوید که آقای هنیه و وزرای کابینه اش علیرغم این سخنان شجاعانه، در باطن عمیقا نگران هستند.

آقای هنیه گفت که فلسطینی ها به خاطر انتخاب دمکراتیک خود تنبیه می شوند و اخطار داد که ایجاد مانع در مسیر کار دولتش به منافع خاور میانه خدمتی نمی کند امریکا و اتحادیه اروپا روز جمعه اعلام کردند که کمک های مالی مستقیم به حکومت خودگردان فلسطینی را به تعلیق در آورده اند.

دیوید ولش، معاون وزارت امور خارجه امریکا در امور خاور نزدیک، می گوید از سرگیری کمک ها به پاسخ مثبت حماس یا دولت آینده فلسطین به خواسته های گروه چهارجانبه - شامل امریکا، روسیه، اتحادیه اروپا و سازمان ملل - در مذاکرات صلح مشروط است.این گروه از حماس خواسته است تا با نفی خشونت و شناسایی اسرائیل، توافق های پیشین حکومت خودگردان فلسطینی با اسرائیل را به رسمیت بشناسد اما حماس از موضع خود تکان نخورده و از به رسمیت شناختن اسرائیل خودداری می کند.

یک سخنگوی دولت تازه فلسطینی با ابراز خشم گفت که هیچ درخواستی از اسرائیل برای پایان دادن به اشغال سرزمین فلسطینی ها مطرح نمی شود وی گفت کسی نمی تواند از دولت فلسطینی باج بگیرد

اتحادیه اروپا با اعطای سالیانه ۶۰۰ میلیون دالر، بزرگترین حامی مالی حکومت خودگردان فلسطینی از زمان تاسیس آن در ۱۹۹۴ بوده است.

آمریکا با اعطای ۴۰۰ میلیون دالر در سال، دومین کمک کننده بزرگ به این حکومت است.

در این حال، امریکا و اتحادیه اروپا می گویند کمک های بشردوستانه همچنان به وسیله سازمان های غیر دولتی یا نهادهای امدادرسانی سازمان ملل متحد در اختیار فلسطینی ها قرار خواهد گرفت

په ننګرهار کې قومی ....

نو هغه به پنځه لکه افغانی نقدی جرمې پرسیره دقوم له لورې کور ورته هم سوزول کيږي دسمنوال عبدالغفور په وينا ددوی امنيتی ساتونکو جلال آباد بنار په دريمه ناحيه کې پنځه تنه غله هم چې غوښتل يې ديو ډاکتر کور ته ننه وځی ددې ميله سپکو وسلو سره لاس په لاس نيولی او پلټنې ور ځخه روانې دی. خو دننګرهار ولايت دسپين غره په سرحدی ولسوالی کې دقومی مشرانو له لورې دغه ګام داسې مهال پورته کيږي چې په ياده شوې ولسوالی کې دهيروئينو د له منځه وړلو په موخه ځو ځلې ددا خلی افغان ځواکونو سر بيره دبهرنيو ائتلافی ځواکونو لخوا عمليات ترسره شوی او په لس ګونه دهيروئين لا براتوارو پکې له منځه وړل شوی دی.

وزرای مالیه و معارف..

گفت که ما مصرف را موازي با موثريت ميدانيم ومصرف بدون موثريت تغير درحال کشور وارد نخواهد کرد واين پول ها به بودجه انکشافي سال آينده انتقال ميابد نه به کشور هاي کمک کننده. پرسش هاي نمايندگان از آقاي احدي در مورد شفافيت مصارف دولتي، بلند بودن ماليه ومصارفات گمرکي، فساد ورشوه ستاني وعدم ملي بودن اين وزارت، متضرر شدن مردم در رفوم پولي، عدم موجوديت واحد نظارت پروژه که باعث متضرر شدن ومصرف بيجاي پول هاي دولتي ميشودو پائين بودن معاشات مامورين دولت صورت گرفت. در همين حال محمد حنيف اتمر وزير نامزد در وزارت معارف از نارسايي هاي متعدد در نظام معارف افغانستان ياد آور شد وبا تاکيد برآموزش هاي مسلکي، عمومي، سواد حياتي وبه ويژه با تاکيد برانکشاف معارف اسلامي توانست توجه اکثر نمايندگان ولسی جرگه را به خود جلب کند. نمايندگان در حالي که از کارکرد هاي وی در وزارت انکشاف دهات به خوبی ياد آوری ميکردند از او خواستند تا در صورت گرفتن رای اعتماد بر معياری ساختن نظام معارف وبا بوجود آوردن نصاب واحد وموثر آموزش تلاش نمايد.

ERADA Daily

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی